داامتیاز خاوند : دعدلیې وزارت
مسئول مدیر : محمد یوسف روښنفکر
تلفون ۲۳۳۳۰
پته : رسمي جریده کابل افغانستان

# رسمي جریده

دافغانستان د پاچاهي دولت رسمي خپرونه


په دې ګڼه کښې


دکابل دپوهنتون اودبن دراینیش فدریش ویلهلم پوهنتون ترمنځ موافقت لیك .

دکابل دهنري تیاتر اساس لیك .



۲۱ ګڼه | چهارشنبه دجدی (۱۵) | ۱۳۴۴هجری شمسی کال | پرله پسې ګڼه (۴۳)


## دکابـــل د پوهنتون اودبن

## دراینیش فیدریش ویلهلم پوهنتون ترمنځ دتوامیت درابطې دتاسیس په باب موافقت لیك .

دکابل پوهنتون اودبن راینیش فیدریش ویلهلم پوهنتون مـوافقه کوی چه دهغه ثقافتي قرارداد په اساس اودهغه په مراتبو کښې دننه چه د۲۹/۱/۴۰ د۱۸/۴/۶۱مـطابق چه دافغانستان دپاچاهي دولت اودالمان دجمهوری دولت تـرمنځه منعقد شوې دی دتـوامیت رابطه‌قایمه اوتاسیس کـړی. دتوامیت ددی رابطی هدف باید داوی چه دکابل دعلوموپـوهنځی دالماني استاذانو په مساعدت دعلمی‌تدریس اوتحقیق په‌ټولو برخـو کښې دبین المللی سوئی سره معادل وی اوددواړو پوهنتونونو ترمنځ همکاری قوت ومومی .

دکـابل دعلوموپه پوهنځی کښې فعلا د تحصیل دوره دلیسانس ددرجې په اخستلوسرته رسیږی خود علومو افغانی پوهنځی اراده‌لری چه‌دآلمانی پوهنتون‌داستاذانو په مساعدت اودافغانی ایجاباتو اومقتضیاتو دلحاظ ساتلوسره په‌آینده کښې دډاکتری ددپلوم اخستلو امکانات هم برابر کاندی‌دتوأمیت ددې رابطی داجراءاتو تفصیل په لاندی ډول تثبیتیږی :

**لومړی ماده :** ــ دالمان د پوهنتون استادان په دی لاندی مـواردو کښې مکلف دی :

الف ــ دعملی اونظری مقصدونو دپاره دتدریس اوڅیړنې دګډو پروګرامونو طرح او تثبیت اوددغو پروګرامونو داجراء اوتطبیق په‌لاره کښې همکاری .

ب ــ دافغانی پوهنتون‌داستاذانو علمی لوړوالی‌تردی چه دوی‌په‌لنډه راتلونکی مـوده کښې دخپلو تخصصی رشتو کرسی‌د تدریس او څیړنې په برخو کښې په عملی او نظری ډول دکابل په پوهنتون کښې په مستقل ډول اوبریالیتوب ونیوی شی .

ج ــ دعلمی څیړنوزیات‌پرمختګ دافغانستان دخاصو علایقو دغوښتنې دلحاظ ساتلوسره .

د ــ دکابل‌دپوهنتون دمحصلینو دپاره په دی غـرض چه ددوی سویه دبین المللی سوئی سره معادله وی دتعلیمی پـروګـرام‌تثبیت اوتطبیق دافغانستان دخـاصو ایجابـاتـو دلحاظ ساتلوسره .

## موافقت‌نامه‌درمورد تأسیس

## رابطه‌توامیت بین

## پوهنتون کابل وپوهنتون راینیش فید ریش ویلهلم بن

پوهنتون کابل وپوهنتون‌راینیش فریدریش ویلهلم بن موافقت‌مینمایند که‌باساس‌ودرداخل‌مراتب‌قرارداد‌فرهنگی که بتاریخ ۲۹/۱/۴۰ شمسی‌مطابق ۱۸/۴/۶۱ عیسوی که‌بین دولت شاهی‌افغانستان ودولت‌جمهـوری‌المان‌انعـقادیافته رابطهٔ‌توامیت رابرقـراروتاسیس نـمایند. هدف این‌رابطـهٔ توامیت‌باید این باشد که‌بمساعدت‌استادان‌المانی درپوهنځی علوم کابل پوهنځی اخیرالذکردرتمام ساحه های تدریس وتحقیق‌علمی‌بسویهٔ‌بین‌المللی‌معادل‌باشدوهمکاری **بین هردو** پوهنتون‌تقویه یابد .

دورهٔ‌تحصیل درپوهنځی‌علوم کابل فعلاباخـذ **درجهٔ** لیسانس خاتمه‌میابداماپوهنځی‌علوم‌افغانـی‌اراده **داردکـه** بمساعدت‌استادان‌پوهنتون المانی وبادرنظرداشتن‌مقتضیات وایجابات افغانی‌درابنده امکانات اخذدپلوم راوداکتری‌را نیزفراهم نمایند.

تفصیل‌اجراات این‌رابطهٔ‌توامیت ذیلاتثبیت میشود :ــ

**ماده‌اول :** ــ استادان‌پوهنتون‌المانی درمواردآتی‌مکلف‌اند :

الف ــ طرح وتثبیت مشتـرك پروگرامهای تدریس وتحقیق علمی‌برای مقاصد نظری‌وعملی‌ــ مشوره وهمکاری درراه اجراوتطبیق این‌پروگرام ها .

ب ــ ارتقای‌علمی‌استادان پوهنتون‌افغانی تاانکه‌ایشان دراىندهٔ‌قریب کـرسی‌رشتـه‌های تخصیصی‌خـودرادر رشتهٔ تدریس وتحقیق بصورت‌عملی ونظری‌درپوهنتون کابل‌طور مستقل وموفقانه‌اشتغال کرده بتوانند.

ج ــ انکشاف مزید تحقـیقات علمی‌بادر نظرد اشتن اقتضای‌علایق‌خاص افغانستان .

د ـ تثبیت وتطبیق پروگرامهای تعلیمی‌برای محصلین پوهنتون کابل بادر نظر داشتن ایجابـات خاص افغانستان بمقصود اینکه سویه‌ایشان‌بسویهٔ‌بین‌المللی معادل باشد .

ه ــ دمشوری ورکولو له لاری دعلومو دپوهنځی په پرمختګ
کښی همکاری

**دوهمه ماده:** ــ دکابل پوهنتون دعلومو پوهنځی دلاندنیو اختصاصی
برخو په تدریس کښې دالمانی استاذانو دمساعدت توقع لری:
عضوی کیمیا
فزیکی کیمیا
تجربوی فزیک
نظری فزیک
تطبیقی زولوجی (سیستما تیک زولوجی) بوتانیک (دنباتی
سیستماتیک دامکان په صورت کښی) کلاسیک ریاضیات، معاصره
ریاضیات جیالوجی، پالیونتولوجی، مینرا لوجی:
دالمانی پوهنتون استاذان باید دبن دراینش فریدریش ویلهلم
پوهنتون دطبیعی علومو اوریاضیاتو په پوهنځی
کښې یا دهغه په یو بل معادل پوهنځی کښی دتدریس
تجربه ولری. ددغو استاذانو له خوا به دکابل په پوهنځی
کښې تدریس په المانی ژبه وی او ترجمه به ئې په محلی ژبه
تیاریږی خو دوی باید دخپلو افغانی همکارانو سره څومره چه
کیدی شی دانګریزی او فرانسوی ژبو داستعمالو له په وسیله
هم په ښه شان دمرام افاده وکړی شی.

**دریمه ماده:** ــ دبن راینیش فریدریش ویلهلم پوهنتون دهغی
پوهنتون دامکانا تو سره سم به کوشش وکړی لایق المانی
استاذان چه حتی المقدر پروفیسران یادوچنتان وی دهغو علمی
څانګو دښوونی او تحقیق متکفل وګرځوی چه په دوهمه ماده کښې
تذکرور کړ شویده.

**څلورمه ماده:** ــ دبن دطبیعی علومو او ریاضیاتو پوهنځی دالمانی استادانو
له منځه دالمانی هیئت رئیس او دهغه کفیل تاکی. دهیئت
رئیس باید پروفیسروی او دی به دتوأمیت ددی رابطی دمربوطو
چارو دتطبیق په وخت کښې دبن درینیش فرید ریش ویلهلم
پوهنتون دطبیعی علومو او ریاضیاتو دپوهنځی نماینده وی. دتوأمو
پوهنځیو ترمنځ رابطه به دده په واسطه ټینګه وی او علاوتا دی
به دالمانی استادانو فعالیتونو ته سمون او انسجام ببښی، دالمانی
هیئت له علایقو او دلزوم په صورت کښې ددی هیئت دغړو له
علایقو څخه دافغانی مقاماتو په وړاندی نمایندګی کوی.

**پنځمه ماده:** ــ المانی استاذان باید په ښه شان دخپلو اختصاصی
برخو متکفل اوسی دوی مکلف دی چه د افغانی تدریسی
هیئت دعلمی سوئی په وړاندی تګ کښې مرسته وکړی
د پوهنځی دمحصلینو تدریس په غاړه واخلی او دخپل تخصص
په چوکاټ کښې دپوهنځی په تحقیقاتی فعالیتونو او نورو علمی
چارو کښې ګډون وکړی.

**شپږمه ماده:** ــ ټول المانی استادان دکابل پوهنتون دعلومو په پوهنځی
کښې وظیفه اجرا کوی او دپوهنځی داستادانو په علمی مجلس
کښې دګډون اورائی ورکولو حق لری. که چیری د افغانی
او المانی تدریسی هیئت منځکښې دتوأمیت د رابطی دچا رو
داجرا او تطبیق دمهمو مسئلو په باب توافق حاصل نه شی نو په
دغه صورت کښې باید دغه مسایل د افغانی پوهنځی د رئیس
او دالمانی هیئت د رئیس دمذاکراتو په وسیله او که ضروری
شی نو د قرارداد دعاقدینو ترمنځ په دوستانه فضا کښې حل و
فصل کړی شی.

ه ــ همکاری از طریق مشوره دادن در توسعه وانکشاف
پوهنځی علوم.

**ماده دوم:** ــ پوهنځی علوم پوهنتون کابل فعلا بتدریس رشته های
اختصاصی ذیل متوقع مساعدت استادان المانی میباشد.
کیمیای عضوی
» فزیکی
فزیك تجربوی
» نظری
زولوجی تطبیقی (سیستماتیك زولوجی) بوتانیك (درصورتی
امکان سیستماتیك نباتی) ریاضیات کلاسیك، ریاضیات
معاصر، جیولوجی، پالیئونتولوجی، مینرا لوجی
استادان پوهنتون المانی باید تجربهٔ تدریسی در پوهنځی
علوم طبعی و یارضیات پوهنتون راینش فریدریش ویلهلم بن ویا
یك پوهنځی معادل آن داشته باشند تدریس در پوهنځی کابل از
جانب استادان مذکور بزبان المانی صورت میگیرد و ترجمهٔ
آن بزبان محلی تهیه میشود اما ایشان باید باهمکاران افغانی
خویش حتی المقدور با بکار بردن لسانهای انگلیسی وفرانسوی
نیز بخوبی افادهٔ مرام بتوانند.

**ماده سوم** ــ پوهنتون راینیش فریدریش ویلهلم بن مطابق امکانات خویش سعی
خواهد کرد که استادان لایق المانی که حتی المقدور پروفیسر یا
دوچنت باشند متکفل تدریس وتحقیق در رشته های علمی
متذکره ماده دوم گردند.

**ماده چهارم** ــ پوهنځی علوم طبیعی وریاضیات بن از بین استادان المانی
رئیس هیئت المانی و کفیل انرا تعین مینماید. رئیس هیات باید
پروفیسر باشد. واو در وقت تطبیق امور مربوط باین رابطه توامیت
نمایندهٔ پوهنځی علوم طبعی وریاضیات پوهنتون رینیش فریدریش
ویلهلم بن میباشد. رابطه بین پوهنځی های توام بواسطهٔ او قائم
میباشد وعلاوتا اوفعالیتهای استادان المانی را تنظیم وانسجام
بخشیده از علایق هیأت المانی درصورت لزوم از علایق اعضای
این هیأت درمقابل مقامات افغانی نمایندگی میکند.

**ماده پنجم** ــ استادان المانی باید بنحو شائسته متکفل شقوق اختصاصی
خویش باشند آنها مکلف اند که در پیشرفت سویهٔ علمی هیأت
تدریسی افغانی کمك کرده تدریس محصلین پوهنځی رابعهده
بگیرند ودرچوکات تخصص خویش در فعالیتهای تحقیقاتی
وغیره امور علمی پوهنځی اشتراك ورزند.

**ماده ششم** ــ همه استادان المانی که در پوهنځی علمی پوهنتون کابل
اجرای وظیفه می نمایند در مجلس علمی استادان پوهنځی حق
اشتراك ورای را دارند. اگر دربین هیأت تدریسی افغانی والمانی
درمسائل مهمه که برای تطبیق واجرای امور برابطه توامیت
توافق حاصل شده نتواند دران صورت باید مسائل مذکور توسط
مذاکرات بین رئیس پوهنځی افغانی ورئیس هیأت المانی ودر
صورت لزوم دربین عاقدین قرارداد درفضای دوستانه حل
وفصل گردند.

**اوومه ماده:** - دالماني استادانو مياشتني معاش په لاندې ډول تثبيتيږي:

الف - دپروفيسرۍ په علمي درجه د يو استاد د پاره دمياشتي يو زر ډالره اويا په سترلنګ پوند ددغه مقدار معادل.

ب - ددوچنتي په علمي درجه ديو استاد دپاره د مياشتي اته سوه امريکائي ډالر اويا په سترلنګ پوند ددغه مقدار معادل.

ج - دډاکترۍ په درجه ديو نفر استاد دپاره په مستقل تدريس دمياشتي اووه سوه امريکائي ډالر اويا په سترلنګ پوند ددغه مقدار معادل.

ددينه علاوه دکور دکرائي دپاره يو زر افغاني اودالوتکي په ذريعه دتګ راتګ دلومړۍ درجې د ټکټ او د پنځوس کيلو ګرامه پيټي دپاره دانتقال قابل مبلغ هم ورکول کيږي. دالماني استادانو منسوبينو ته دسفر لګښتونه نه ورکول کيږي. ددينه علاوه هغه مسايل چه داستخدام په شرايطو او په هغو انفرادي قراردادونو پورې ربط لري کوم چه داستادانو او پوهنتون ترمنځه منعقديږي تصريح کيږي.

انفرادي قرارداد دهغه قرارداد سره مطابقت لري چه نمونه ئې ددې موافقت ليک سره ضميمه ده.

په وړيا ډول دالماني هيئت د رئيس قرارداد دبن د رينيش فريدريش ويلهلم پوهنتون دطبيعي علومو اورياضياتو دپوهنځي لهخوا اودنورو الماني استادانو قرارداد دالماني هيئت د رئيس لهخوا تصديقيږي. دهيئت د رئيس داستخدام دوره کم نه کم بايد يو کال اودنورو استادانو داستخدام دوره بايد کم نه کم دوه کاله دوام وکړي.

**اتمه ماده:** - دقرارداد عاقدين به هڅه وکړي چه په کال کښې يو يا دوه دکرسۍ خاوند الماني استادان دوه يادرې مياشتې دافغاني استادانو دسوئې دلوړولو دپاره دميلمنو پروفيسرانو په حيث دکابل په پوهنتون کښې مصروف کړي.

دميلمه پروفيسر مياشتني معاش زر ډالره دی خو ددوی دسفر لګښتونه دافغاني مقاماتو له پلوه نه ورکول کيږي.

**نهمه ماده:** - الماني استادان دافغاني تدريسي هيئت د غړو دلياقت اودعلمي کار دکيفيت اودکابل پوهنتون دمقرراتو مطابق لوړو علمي مدارجو ته ددوی دترقۍ په باب په فني لحاظ قضاوت اودنظر اظهار کوي.

**لسمه ماده:** - کابل پوهنتون دتوأميت درابطې اهدافو ته درسيدو دپاره دالماني هيئت د رئيس په ګډون دعلومو دپوهنځي دتدريسي هيئت لايق غړي انتخابوي اودعلومو دمعلوماتو دپراختيا اوزياتولو دپاره ئې دالمان داتحادي دولت پوهنتونونو اويائې دنورو مملکتونو پوهنتونونو ته استوي. دوی بايد هلته څومره چه ممکن وي لوړو علمي درجو ته ورسيږي.

دبن دطبيعي علومو اورياضياتو پوهنځی به دخپلو امکاناتو په داخل کښې هڅه وکړي چه دافغاني تدريسي هيئت د غړو دپاره دعلمي تحصيلاتو زيات موجبات برابر کړي.

**يوولسمه ماده:** - که دتوأميت درابطې دموافقت نامې دتطبيق اواجراء په ترڅ کښې حاصل شوي تجربې دتوأميت درابطې دموافقت نامې تعديل يا دهغې دځينو مقرراتو دتغيير ايجاب وکړي دقرارداد عاقدين پيشبين وي چه په دې صورت کښې ددې موافقتنامې په مقرراتو کښې تجديد نظر وکړي.

**دولسمه ماده:** - دغه موافقت ليک دنامعلومې مودې لپاره اعتبار لري او ختميدل ئې دافغاني تعليمي کال په آخره کښې صورت نيسي.

**ماده هفتم** - معاشات ماهوارهٔ استادان المانی طبق ذیل تثبیت میگردد:

الف - برای یکنفر استاد بدرجه علمی پروفیسری ماهانه یکهزار دالر ویا معادل آن به پوند سترلنگ.

ب - برای یکنفر استاد بدرجه علمی دوچنتی ماهانه هشت صد دالر امریکائی ویا معادل آن به پوند سترلنگ.

ج - برای یکنفر استاد بدرجهٔ داکتری و تدریس مستقل ماهانه هفت صد دالر امریکائی ویا معادل آن به پوند سترلنگ

علاوتاً ماهانه یکهزار افغانی برای کرائیه منزل ووجه قابل انتقال قیمت تکت درجه اول رفت وآمد ذریعه طیاره وپنجاه کیلو گرام بار رادریافت مینمایند. برای منسوبین استادان المانی مصارف سفر داده نمیشود اضافه برین مسائل مربوط به شرائط استخدام ودر قراردادهای انفرادی که بین استادان وپوهنتون کابل انعقاد مییابد تصریح میشود.

قراردادهای انفرادی با قراردادی که نمونه آن درضم این موافقت نامه موجوداست مطابقت دارد.

قرارداد رئیس هیأت المانی بصورت مجانی از جانب پوهنځی علوم طبیعی وریاضیات پوهنتون رینیش فرید ریش ویلهلم بن وقرارداد استادان دیگر المانی از جانب رئیس هیأت المانی تصدیق میشود. دورهٔ استخدام رئیس هیات اقلاً باید مدت یکسال ودورهٔ استخدام استادان دیگر اقلاً دوسال دوام کند

**ماده هشتم:** - عاقدین قرارداد سعی خواهند کرد که سالانه یک یاد ونفر از استادان صاحب کرسی را که المانی باشد برای مدت دو یا سه ماه بغرض تقویه وارتقای سویهٔ استادان افغانی بحیث پروفیسران مهمان درپوهنتون کابل مصروف سازند. معاش پروفیسر مهمان ماهانه یکهزار دالر میباشد اما مصارف سفر آنها از طرف مقامات افغانی داده نمیشود.

**ماده نهم:** - استادان المانی دربارهٔ لیاقت وکیفیت کار علمی اعضای هیات تدریسی افغانی وارتقاء انها طبق مقررات پوهنتون کابل بمدارج بلندتر علمی از نگاه فنی قضاوت واظهار نظر مینمایند.

**ماده دهم:** - برای رسیدن باهداف رابطهٔ توامیت پوهنتون کابل باشتراك رئیس هیأت المانی اعضای لایق هیأت تدریسی پوهنځی علوم را انتخاب نموده وبه غرض توسعه وکسب معلومات بیشتر علوم درپوهنتونهای دولت اتحادی المان ویاپوهنتونهای ممالك دیگر میفرستند ایشان باید درانجا حتی الامکان بمدارج علمی نائل گردند. پوهنځی علوم طبعی وریاضیات بن در داخل امکانات خویش سعی خواهد کرد که برای اعضای هیأت تدریسی افغانی موجبات تحصیلات بیشتر علمي را فراهم سازد.

**ماده یازدهم:** - اگر دراثنای تطبیق واجرای موافقت نامه رابطه توامیت تجارب حاصله لزوم تغیر بعضی از مقررات ویاتعدیل همه موافقت نامه رابطهٔ توامیت را ایجاب کند عاقدین قرارداد پیشبین می باشند که دران صورت به مقررات این موافقت نامه تجدید نظر بفرمایند.

**ماده دوازدهم:** - این موافقت نامه برای مدت غیر معین اعتبار دارد وانقضای آن دراخیر سال تعلیمی افغانی صورت می گیرد

په دی شرط چه که چیری د قرارداد کونکو یوه خواالزتر لږه شپږ میاشتی پخوا دهغی دمیعاد ختمیدل په تحریری ډول مقابل خواته ابلاغ کړی . د موافقت لیك دختمیدل په وخت کښی داستادانو دانفرادی قراردادونو موده هم اختتامومی ، بیلههغی باید هر یو له آلمانی استادانو څخه دانفرادی قراردادونو دادامی درخواست په صریح ډول وکړی.

دیار لسمه ماده :-داموافقت لیك د۱۳۴۰ کال دحوت دمیاشتی د څوار لسمی نیتی راهیسی قانونی اعتبار لری او اعتبارئی دالمانیانو له خوا دشمالی اوستفالی راین دولایت دپوهنی دوزیر په تصویب پوری مشروط دی موافقت لیك په دری اوالمان هره یوه ژبه باندی په څلور ونسخو کښی لیکل کیږی .

دشك او تردید په صورت کښی دواړه متنونه یوشان اعتبار لری.

بن د۱۳۴۰ کال دحوت ۱۴

| | |
|---|---|
| دکابل پوهنتون رئیس | دبن دراینیش فرید ریش و یلهلم پوهنتون رئیس |
| دعلومو دپوهنځی رئیس | دطبیعی علوموا وریاضیاتو دپوهنځی رئیس. |

# دکابل دهنری تیاتر اساس

## لیک دکابل هنری تیاتر

دکابل هنری تیاتر دمطبوعاتو دوزارت د یوې تصدی موسسی د حیثیت د لرلو سره ددولتی تصدیو داصولنامی دموادواودغو مطلبو نو سره سم جوړشوی دی .

### لمړی فصل . عنوان اومقصد

الف : عنوان

۱ - دموسسې نوم دکابل هنری تیا تر دی .

۲- مرکز : دکابل دهنری تیاتر مرکز کابل افغانستان دی اودغوښتنی په وخت کښی به د هیواد په نورو ولایتو او ځایونو کښی دهغه نمایندگی جوړې شی .

۳-دکابل هنری تیاتر ، دتیاتر ، گڈا ، موسیقی آرټ او سینمادڅانگوپه لرلو سره فعالیت کوی .

ب- مرام یا مقصد .

۴ـ دکابل هنری تیاتر له دغو مسئلوڅخه جوړ دی .

الف ـ دیوی یا څوصحنو تمثیلو لو دکابل په ولایت او دلزوم په صورت کښی دافغانستان په نورو ښارونو کښی په هغه پوری مربوط دډرامو او نورو عرفانی او نشراتی نند ارو دښودنو اداره .

ب- دعلمی اساسونو سره سم دداخلی اوخارجی ډرامو تمثیلول .

ج- دهنری فلمونو جوړول اوبرابرول .

د- دمحیط دفعالیت اوداخلی هنر مندانو دسوئی دلوړ ولو لپاره افغانستان ته دخارجی هنری نندار ودگروپونو استخدام اوروبلنی ور کول .

### دوهم فصل پانگه

۵ـ دکابل دهنری تیاتر پانگه دمالیی دوزارت مربوط ده او هغه وزارت ئی غور کوی .

دبودجې اودهغی دلگښت په صلاحیت پوری په تولو مربوطو موادو کښی چه په دی اساس کښی ندی ذکرشوی ددولت دتصدیو داصولنامې دمقرراتو تابع گڼل کیږ ی .

۶: دموسسی لمړی پانگه دری ملیونه افغانی دی .

توضیح ـ دموسسی غیرمنقول دارائی دکابل نندری ودنی چه بیهٔ اا

مشروط بر اینکه اگر یکی از جانبین قرار داد اقلاً شش ماه قبل ختم میعادآن را بصورت تحریری بهسمت مقابل ابلاغ کند. در وقت خاتمه یافتن میعاد موافقت نامه ، میعاد قرار داد های انفرادی استادان نیز خاتمه می یا بد. درغیر آن باید هریك از استادان آلمانی ادامه قرارداد انفرادی را صریحاً درخواست نمایند .

ماده سیزدهم :ـ این موافقت نامه از تاریخ ۱۳حوت ۱۳۴۰ مدار اعتبار قانونی قرار میگیرد و اعتبار ان از جانب المانها مشروطبه تصویب وزیر معارف ایالات راین شمالی وستفالی می باشد .

موافقت نامه بالسنه دری والمانی از هر کدام چهار نسخه تحریر میگردد . درصورت شك وتردید هردومتن یکسان اعتبار دارد .

بن مورخه ۱۴/حوت ۱۳۴۰

رئیس پوهنتون کابل

رئیس پوهنځی علوم

رئیس پوهنتون راینش فریدریش ویلهلم بن

# اساسنامه تیاتر هنری کابل

## دکابل هنری تیاتر

تیاتر هنری کابل باداشتن حیثیت یک موسسه تصدی وزارت مطبوعات مطابق مواد اصولنامه تصدیهای دولتی و مطالب آتی تشکیل یافته است .

### فصل اول :عنوان ومرام:

الف ـ عنوان.

۱ـ نام موسسه دکابل هنری تیاتر ـ تیاتر هنری کابل میباشد .

۲ ـ مرکز دکابل هنری تیاتر ـ کابل افغانستان بوده وعندالاقتضاً نمایندگی های آن در سائر ولایات ونقاط کشور تشکیل خواهد شد .

۳ـ دکابل هنری تیاتر باداشتن شعبات تیاتر ـ رقص ـ موسیقی ـ ارت وسینما فعالیت میکند .

بـ مرام :

۴ـ اهداف دکابل هنری تیاتر را مسائل آتی تشکیل میدهد .

الف ـ اداره یك یاچند صحنه تمثیل ونمایش درامها ودیگر نمایشات عرفانی و نشراتی مربوط به آن درولایت کابل و درصورت لزوم در شهرهای دیگر افغانستان .

ب ـ تمثیل درامهای داخلی وخارجی مطابق اساس های علمی .

ج ـ تهیه وتولید فلم های هنری .

د ـ استخدام ودعوت از تروپ های نمایشات هنری خارجی به افغانستان به غرض بلند بردن سویه هنرمندان داخلی وسرگرمی محیط .

### فصل دوم : سرمایه :

۵ـ سرمایه دکابل هنری تیاتر مربوط وزارت مالیه بوده وتحت وارسی قراردارد. درتمام موارد مربوط بودجهٔ وصلاحیت مصرف آن که در ین اساسنامه ذکر نیافته تابع مقررات اصولنامهٔ تصدیهای دولت شناخته میشود.

۶ـ سرمایه ابتدائی موسسه عبارت از (سه ملیون) افغانی میباشد .

توضیح :ـ دارائی غیرمنقول موءسسه عبارت ازعمارت کابل ننداری

دوه پنځوس ملیونه افغانی ده، دکابل سینماودانی چه بیه ئی دیرش ملیونه افغانی ده او دپوهنی ننداریو دانی چه بیه ئی یو ملیون او پنځه سوه زره افغانی ده دمزار شریف دسینماودانی ددریو ملیونو افغانیو په بیه دشاهی پل ترڅنګ دموسسی داستوګنی ودانی دپنځو ملیونو افغانیو په بیه چه دټولی غیرمنقول دارائی ټوله بیه (یونوی ملیونه او پنځه سوه زره) افغانی او دموسسی ټوله دارائی دلمړی پانګې په ګډون له څلورنوی ملیونو او پنځه سوه زرو) افغانیو څخه عبارت وی .

۷ـ پانګه دعامل هیئت د پیشنهاداودعمومی آمر دصوابدید په اساس زیاتیږی او کمیږی .

## دریم فصل تشکیلات اووظیفی

۸ـ دموسسی تشکیل دغه ارګان لری.

الف ـ لوی آمر ـ دمطبوعاتو وزیر .

ب ـ عامل هیئت .

ج ـ مشورتی کمیسیون

۹ ـ دلوی آمروظیفی دادی :ـ

الف ـ دموسسی درئیس اوعامل هیئت انتخاب اودهغو مقرراتو سره سم چه ددولتی مامورینو په برخه کښی اجرا کیږی دصلاحیت لرونکو مقاماتو څخه دهغو منظوری اخستل .

ب ـ ددی اساسنامی دموادوسره سم دموسسی دکالنی بودجې اوپروګرام منظوری .

ج ـ دعامل رئیس دکالنی ترتیب کړی شوی بیلانس اورپوټونو منل یانه منل .

د ـ ترشپږمی رتبی پوری دمامورینو دمنظوری ورکول .

هـ ـ دموسسی په مهمو چاروکښی مراقبت اوفیصله .

و ـ له داخلی اوخارجی موسسو څخه دمرستی په اخستلو کښی تصمیم .

۱۰ـ عامل هیئت دموسسی له رئیس اومرستیالانو څخه جوړدی . عامل رئیس دوهمه رتبه اودهغه مرستیالان دریمه رتبه لری .

عامل رئیس ددی اساسنامې سره سم دموسسې دچاروپه پر مخبیولو کښی لوی آمرته مسئول دی .

۱۱ـ دموسسی ټول ارګان مستقیماً د عامل رئیس تر اثرلاندې وې .

۱۲ـ دعامل هیئت وظیفی پدې ډول دي.

الف ـ دمسلکی څانګوجوړول .

ب ـ د موسسی د پروګرامونو تطبیق .

ج ـ دکالنې بیلانس ترتیبول اولوی آمرته د هغه وړاندې کول .

د ـ دکالنۍ بودجی ترتیبول اولوی آمرته د هغې وړاندې کول.

هـ ـ دلوی آمرد امرونو اوفیصلو اجرا کول.

و ـ دمسلکی چاروتنظیم دننداروانتظام اواداره اودموسسی دعوایدو مراقبت.

ز ـ مشورتی کمیسیون ته دلازم تدقیق لپاره بودجه ، بیلانس او رپوټونه وړاندې کول .

ح ـ د هنرمندانو لپاره دتعلیمات نامې داخلی مقررات اولایحې جوړول.

ت ـ د اسنادود سند نیولوله مخې اود لزوم په وخت کښې دنورو اړتیاوو اواسنادود مجرائی له مخې د پیسوور کړه راکړه .

۱۳ـ مشورتی کمیسیون له دریو غړیو څخه جوړدی چه دلوی آمرله خواد یوه کال لپاره منظوریږی.

۱٤ـ دمشورتی کمیسیون وظیفی پدې ډول د ی.

الف ـ دکال په جریان کښې د موسسی د حسابی چارواودارائی غور کول.

ب ـ دکالنې بیلانس تدقیق او کنترول اودهغه په باره کښې د نظرئی څرګندول.

به قیمت ( پنجاودوملیون ) افغانی وعمارت سینما کابل به قیمت (سی میلون) افغانی وعمارت سینما پوهنی ننداری به قیمت (یک میلون و پنجصد هزار) افغانی وعمارت سینمای مزار شریف به قیمت (سه ملیون) افغانی وعمارت نشیمن موءسسه در نزدیکی شاهی پل به قیمت ـ(پنج میلون) افغانی که جمله قیمت دارائی غیرمنقول (نودویک میلون و پنجصد هزار) افغانی مجموع دارائی موءسسه بشمول سرمایه ابتدائی عبارت از (نودوچهار ملیون و پنجصد هزار) افغانی میبا شد .

۷ـ تزئید و تنقیص سرمایه به اساس پیشنهاد هئیت عامل وصوابدید امر عمومی به عمل میاید .

## فصل سوم ـ تشکیلات ووظایف :

۸ـ تشکیل موءسسه حاوی ارگان آتی است:

الف ـ امرعمومی ـ وزیر مطبوعات .

ب ـ هیئت عامل

ج ـ کمیسیون مشورتی .

۹ـ وظایف امر عمومی عبارت انداز:

الف ـ انتخاب رئیس و هئیت عامل موسسه واخذ منظوری آن ازمقامات صالحه مطابق به مقرراتیکه درقسمت مامورین دولتی مرعی الاجراء است .

ب ـ منظوری بودجه وپروگرام سالانه موءسسه برحسب مواد این اساسنامه.

ج ـ قبول یارد بیلانس مرتبه وراپورهای سالانه رئیس عامل .

د ـ اعطای منظوری مامورین تارتبه (شش)

هـ ـ مراقبت وفیصله درامور مهم موءسسه.

و ـ تصمیم بگرفتن امداد از موسسات داخلی وخارجی .

۱۰ـ هئیت عامل مرکب از رئیس ومعاونین موسسه میباشد رئیس عامل رتبه(۲) ومعاونین آن رتبه(۳) رادارا باشند .

رئیس عامل از پیشبرد امور موءسسه مطابق این اساسنامه نزد امرعمومی مسئول میباشد .

۱۱ـ سائر ارگان موسسه مستقیماً تحت اثر رئیس عامل قراردارد.

۱۲ـ وظایف هئیت عامل قرار ذیل است:

الف ـ تشکیل شعبات مسلکی .

ب ـ تطبیق پروگرامهای موءسسه .

ج ـ ترتیب بیلانس سالانه وتقدیم آن به آمرعمومی.

د ـ ترتیب بودجه سالانه وتقدیم آن به آمرعمومی

هـ ـ اجرای اوامر وفیصله های آمرعمومی.

و ـ تنظیم امور مسلکی انتظام واداره نمایشات ومراقبت عواید موسسه.

ز ـ تقدیم بودجه و بیلانس وراپورهای لازمه جهت تدقیق به کمیسیون مشورتی.

ح ـ ترتیب لوایح ومقررات داخلی تعلیمات نامه برای هنرمندان .

ت ـ دادوستد پولی به استناد اسناد وعندالزوم به سائر ضروریات و مجرائی اسناد مصرف .

۱۳ـ کمیسون مشورتی مرکب از سه عضو است که ازطرف آمرعمومی برای یک سال منظور میگردد .

۱٤ـ وظایف کمیسیون مشورتی قرار ذیل است :

الف ـ بررسی از امور حسابی ودارائی موسسه درجریان سال.

ب ـ تدقیق و کنترل بیلانس سالانه وابراز نظریه دربارهٔ آن .

ج ــ داداری اوحسابی اصلاحاتو کتنه اوعامل هیئت ته نظریــ ورکول.

د ــ د هغومسئلو په شاءوخوا کښي کتنه اونظریه ورکول چه لوی آمرته ښودل کیږی.

۱۵ــ دکمیسیون وظیفی افتخاری وی وخت په وخت دموسسي په مرکز کښي دلوی آمریارئیس د فیصلي په موجب غونډه کوی.

خلورم فصل ړنګیدل اوتصفیه کیدل

۱۶ــ دکابل هنری تیاتر دلاندینوعواملو څخه تریوه لاندي دلوی آمرپه پیشنهاداودوزیرانودعالی مجلس په منظوری ړنګیدلی شی.

الفــ د محوله وظیفود پرمخبیولو دنه امکان پــه صورت کښي د هغوعواملوله امله چه لوی آمرته تثبیت شی.

بــ د مماثلوموسسوسره الحاق یایووالی.

جــ دورسپارل شوووظیفوپه سرته رسولو.

۱۷ــ دکابل هنری تیاترتصفیه د مطبوعاتو دوزارت له خوا اجرا کیږی.

۱۸ــ د موسسی دارائی د پولرن ته له ورکړي څخه اوله تصفیئی له لګښتو څخه وروسته دمالیئی وزارت ته انتقا لیږی.

پنځم فصل بیل بیل مواد

۱۹ــ دموسسی د محاسبی اوحسابی وارسی طرز ددولتی حسابــی سیستم په اساس دوه اړخیزه کیږی.

۲۰ــ څنګه چه دکابل هنری تیا تر د ښکلیو او تمثیلی هنرو نــود یرو اجو لولپاره موظف شویدی نوله دغه امله دصنایعو دقانون دټولو حقوقو اوتشویق څخه ګټه اخلی.

۲۱ــ دکابل هنری تیاترپه ټولو مواردو کښي چه پدي اساسنا مه کښي ذکرشویدی ددولتی مقرراتو اواصولنامو تابع ګڼل کیږی. (ختم)

ج ــ مطالعه اصلاحات اداری وحسابی وابراز نظریه به هت عامل

د ــ مطالعه و ابراز نظریه دراطراف مسائلیکه حسب صوابدید آمر عمومی به آن رویت داده شود.

۱۵ ــ وظایف کمیسیون افتخاری بوده وقتاً فوقتاً بموجب فیصله آمرعمومی یارئیس درمرکز موسسه اجتماع مینمایند.

فصل چهارم : انحلال وتصفیه

۱۶ ــ دکابل هنری تیاترتحت یکی ازعوامل ذیل به اثرپیشنهاد آمر عمومی ومنظوری مجلس عالی وزراء منحل شده میتواند.

الف ــ درصورت عدم امکان بیشبردوظایف محوله نظربه عواملیکه نزد آمرعمومی تثبیت گردد.

ب ــ الحاق یااتحاد باموسسات مماثل.

ج ــ درختم اکمال وظیفه محوله.

۱۷ ــ تصفیه دکابل هنری تیاتر ازطرف وزارت مطبوعات تحت اجراء گرفته میشود.

۱۸ ــ دارائی موسسه بعد ازتادیه دیون ومصارف تصفیه بوزارت مالیه انتقال داده میشود.

فصل پنجم : مواد متفرقه :

۱۹ ــ طرزمحاسبه ووارسی حسابی موسسه به اساس سیستم حسابی دولتی مضاعف میباشد.

۲۰ ــ چون دکابل هنری تیاتر برای ترویج هنرهای زیباء وتمثیلی موظف گردیده بنابران ازکلیه حقوق قانون وتشویق صنایع مستفید میگردد

۲۱ ــ دکابل هنری تیاتردرتمام موارد یکه در این اساسنا مه ذکر یافته تابع مقررات واصولنامه های دولتی شناخته میشود.

## اعلان ازمدیریت عمومی ثبت اسناد وعلایم تجارتی محکمه مرافعه تجارتی

موسسه (دهیداگ دوچ هیدریرورك.م.ب.ح) که مرکز اصلی آن درشهر (دوسلدرف) مملکت (المان) واقع است

Dehydag Deutsc Hydrierwerke Gmbh.
Dusseldorf--Holthausen,Henkelstrasse 67, Germany

میخواهد علامت منسوبهٔ خود را که عبارت از علامت مقابل بوده و بروی اجناس وتولیدات شامل طبقات ۱ و۲ و۳ و۴ و۵ و۶ و۱۶ و۱۷ بکاربرده میشود به ثبت برساند. موضوع جهت اطلاع علاقمندان اعلان شد هرگاه اشخاص وموسسات برعلامت مذکور کدام اعتراض داشته باشند الی پانزده روز بمدیریت عمومی ثبت اسناد وعلایم تجارتی مراجعه نمایند.

موسسه (سونی کابوشیکی کایشا) که مرکز اصلی آن درشهر (توکیو) مملکت (جاپان) واقع است.

Sony Kabushiki Kaisha also trading as
Sony Corporation a Jointed at 351, 6- Chome,
Kitashinagawa, Shinagawa- ku Tokyo- To, Japan

میخواهد علامت منسوبهٔ خود را که عبارت ازعلامت فوق بوده وبروی اجناس وتولیدات شامل طبقات ۶ و۷ و۹ و۱۴ و۲۰ و۳۶ بکاربرده میشود به ثبت برساند. موضوع جهت اطلاع علاقمندان اعلان شد هرگاه اشخاص وموسسات بر علامت مذکور کدام اعتراض داشته باشند الی پانزده روز بمدیریت عمومی ثبت اسناد وعلایم تجارتی مراجعه نمایند.

موسسه (آرمکوستیل کورپریشن) که مرکز اصلی آن درشهر (اوهیو) مملکت (امریکاء) واقع است.

Armco Steel Corporation 703 Curti Street
Middletown, Ohio, U. S. A.

میخواهد علامت منسوبهٔ خود را که عبارت ازعلامت مقابل بوده وبروی اجناس وتولیدات شامل طبقه ۶ بکاربرده میشود به ثبت برساند. موضوع جهت اطلاع علاقمندان اعلان شد هرگاه اشخاص وموسسات بر علامت مذکور کدام اعتراض داشته باشند الی پانزده روز بمدیریت عمومی ثبت اسناد وعلایم تجارتی مراجعه نمایند.

موسسهٔ (سکلواونیون نارودنی پودیلك) که مرکز اصلی آن درشهر (تپلیس) مملکت (چکوسلواکی) واقع است.

Sklo Union Narodnik Teplice, Czechoslovakia

میخواهد علامت منسوبهٔ خود را که عبارت از کلمهٔ مقابل بوده بروی اجناس وتولیدات شامل طبقات ۱۹ و۲۱ و۹ بکار برده میشود به ثبت برساند

(بقیه درعقب صفحه)

موضوع جهت اطلاع علاقمندان اعلان شد هرگاه اشخاص و موسسات برعلامت مذکور کدام اعتراض داشته باشند الی پانزده روزبمدیریت عمومی ثبت اسنادوعلایم تجارتی مراجعه نمایند.

موسسهٔ (اورتوفارمسیوتیکل کو پرایشن) که مرکز اصلی آن درشهر (نیوجرسی) مملکت امریکاء واقع است.

Ortho Pharmaceutical Corporation
Raritan, New Jersey U. S. A.

میخواهد علامت منسوبهٔ خود راکه عبارت از علامت مقابل بوده وبروی اجناس و تولیدات شامل طبقه ۹ بکاربرده‌میشود به‌ثبت برساند موضوع جهت اطلاع علاقمندان اعلان شد هرگاه اشخاص و موسسات برعلامت مذکور کدام اعتراض داشته باشندالی پانزده روزبمدیریت عموم ثبت اسناد وعلایم تجارتی مراجعه نمایند

موسسهٔ (تایم اینکورپورتید) که‌مرکز اصلی آن درشهر نیویارك مملکت امریکاء واقع است

Time, Incorporated A New York Corporation 1271 Avenue of the Americas New York, .Y. U. .A.

میخواهد علامات منسوبهٔ خودراقرارذیل ثبت دفتر ثبت اسناد وعلایم تجارتی نماید.

علامت مقابل بروی اجناس وتولیدات شامل طبقات ۹و۱۶ بکاربرده‌میشود.

کلمهٔ لایف که بروی اجناس وتولیدات شامل طبقات۹و۱۶ بکار برده‌میشود.

موضوع جهت اطلاع علاقمندان اعلان شد. هرگاه اشخاص وموسسات برعلامات مذکور کدام اعتراض داشته باشند الی پانزده روزبمدیریت عمومی ثبت اسناد وعلایم تجارتی مراجعه نمایند.

دبناغلی محمدطاهرسوداگرتجارتي خصوصیات په‌لاندې ډول د اسنادو دثبت په‌لوی مدیریت کښې ثبت شوی دی.

۱_ د سوداگرنوم: محمد طاهر.
۲_ دپلارنوم : صالح محمد.
۳_ دزیږید وځای‌او نیټه: کابل‌په ۱۳۰۵ هـ ش کال کښې.
٤_ تابعیت: افغان د ۸۵۸۳٤۹ لمبر تذکرې لرونکی.

موسسه (کمپنی د یلر بنز) که‌مرکز اصلی آن درشهر (اشتوتگارت) مملکت المان واقع است میخواهد که‌علامات منسوبهٔ خودرا قرار ذیل ثبت دفتر ثبت اسنادوعلایم تجارتی نماید.

Daimler-Benz Aktiengesellschaft
Stuttgart, Underturkheim, Germany

کلمه مقابل بروی اجناس وتولیدات شامل **Daimler-Benz** طبقات۲،٦،۷،۸و۹ بکاربرده‌می‌شود

علامت مقابل بروی اجناس و تولیدات شامل طبقات(٤،٦،۷،۸،۹،۱۱و۱۲)بکار برده میشود.

علامات مقابل MERCEDES-BENZ بروی اجناس وتولیدات شامل طبقات٤،٦،۷،۸،۹،۱۱ و۱۲ بکاربرده‌میشود.

علامت مقابل بروی اجناس وتولیدات (    ) بکار برده می‌شود.

کلمهٔ UNIMOG بروی اجناس وتولیدات شامل طبقات ۲،٦،۷،۸،۹، بکار برده می‌شود.

علامت مقابل بروی اجناس وتولیدات شامل طبقات ۲،۷،۸،۹و۱۹ بکار برده می‌شود.

علامت مقابل بروی اجناس وتولیدات شامل طبقات ٤،٦،۷،۸،۹،۱۱و۱۲ بکاربرده می‌شود

موضوع جهت اطلاع علاقمندان اعلان شد هرگاه اشخاص وموسسات برعلامات مذکور کدام اعتراض داشته‌باشند الی پانزده روز بمدیریت عمومی ثبت اسناد وعلایم تجارتی مراجعه نمایند.

خصوصیات تجارتی بناغلی محمدطاهر تاجر قرار ذیل ثبت دفترمدیریت عمومی ثبت اسنادوعلایم تجارتی گردیده‌است.

۱_ اسم تاجر: محمدطاهر
۲_ ولد : صالح‌محمد
۳_ محل‌تولد وتاریخ : درکابل درسنه۱۳۰۵ ش
٤_ تابعیت: افغان دارنده تذکره نمبر ۸۵۸۳٤۹

(بقیه درعقب صفحه)

٥ــ دتجارت عنوان: محمد طاهر.
٦ــ دتجارت موضوع: ١ــ صادرات: وچه اولمده میوه ــ پوست باب ــ حبوبات کلمی اوغالی .
٢ــ واردات: رخت باب ــ بنجارگی ــ دودانیو سامان دموترسامان کریانه ــ چای ــ تازه میوی اوځرمن باب .
٧ــ دتجارتخی پته: پښتون مارکټ .
٨ــ دلاسلیک صلاحیت لرونکی: دمحمد طاهر امضاء اعتبارلری.

**د ښاغلی شاه ولی سوداګرتجارتی خصوصیات په لاندی ډول داسناد و دثبت په لوی مدیریت کښی ثبت شوی دی.**

١ــ دتاجرنوم: شاه ولی.
٢ــ دپلارنوم: ګدری خان
٣ــ دزیږیدوځای: دپکتیا ولایت
٤ــ تابعیت: افغان د ٨٣٧٠٨٩ لمبرتذکری خاوند.
٥ــ دتجارت عنوان: شاه ولی
٦ــ دتجارت موضوع: ١ــ صادرات: وچه اوتازه میوه ــ کنجد اونور.
٢ــ رخت باب ــ بنجارګی موتر ــ دودانیو سامان ــ پرزی چای ــ خورده خرځول ــ دموترو تیراوتوپ ــ غوړی ــ نخ ــ لیلامی مالو نه اسپنی شیان .
٧ــ دتجارتخی پته: باغ علیمردان دوزیرسرای
٨ــ دصلاحیت لرونکی امضا: دشاه ولی امضا اعتبار لری.

**دښاغلی حاجی علی احمدتاجر تجارتی خصوصیات په لاندی ډول داسنا دو دثبت په لوی مدیریت کښی ثبت شوی دی.**

١ــ دسوداګرنوم حاجی علی احمد.
٢ــ دپلارنوم: نورمحمد.
٣ــ دزیږیدوځای اونیټه: ده بوری په ١٣١٣ هـ ش کال کښی
٤ــ دتجارت عنوان: حاجی علی احمد.
٥ــ تابعیت: افغان د١٥٢٧٧٥ نمبرتذکری خاوند.
٦ــ دتجارت موضوع: ١ــ صادرات: غالی ــ وچه میوه او کلمی.
٢ــ واردات: دوړیو رخت باب ــ بنجارګی شیان اوخورده خرځول .
٧ــ دتجارتخی پته: احمدشاهی سرای
٨ــ دلاسلیک صلاحیت لرونکی: دحاجی علی احمدمهر اعتبارلری.

**دښاغلی محمدهاشم دفتری سوداګر تجارتی خصوصیات په لاندی ډول داسنا د و د ثبت په لوی مدیریت کښی ثبت شوی دی.**

١ــ دسوداګرنوم: محمدهاشم دفتری
٢ــ دپلارنوم: محمدحسین خان .
٣ــ دزیږیدوځای اونیټه: کابل په ١٣٠٣هـ ش کال کښی .
٤ــ تابعیت: افغان د١٧٧٥ لمبرتذکری لرونکی خاوند .
٥ــ دتجارت عنوان: محمدهاشم دفتری .
٦ــ دتجارت موضوع: کوکاکولا نمایندګی.
٧ــ دتجارتخی پته: دکابل په نوی ښار کښی.
دلاسلیک صلاحیت لرونکی: دمحمد هاشم دفتری اومحمد عمر امضاګانی په مشترک ډول اعتبارلری .

**د ښاغلی حاجی دین محمد سوداګر تجارتی خصوصیات په لاندی ډول د اسنا دو دثبت په لوی مدیریت کښی ثبت شوی دی**

١ــ دسوداګرنوم: حاجی دین محمد .
٢ــ د پلارنوم: ګل محمد خان
٣ــ د زیږید وځای: مشرقی په ١٣١٢هـ ش کال

٥ــ عنوان تجارت: محمدطاهر
٦ــ موضوع تجارت: ١ــ صادرات: میوه خشک وتازه ــ پوست باب ــ حبوبات ــ روده وقالین. ٢ــ واردات: رخت باب ــ بنجارگی ــ سامان تعمیراتی ــ سامان موتر کریانه ــ چای ــ چرم باب ومیوهٔ تازه .
٧ــ موضع تجارتخانه: پښتون مارکت .
٨ــ اشخاص دارای صلاحیت امضاء امضا محمد طاهرمدار اعتبار است .

**خصوصیات تجارتی ښاغلی شاه ولی تاجرقرار ذیل به ثبت مدیریت عمومی ثبت اسناد وعلایم تجارتی رسیده است.**

١ــ اسم تاجر: شاه ولی
٢ــ ولد: گدری خان
٣ــ محل تولد: ولایت پکتیا
٤ــ تابعیت: افغان دارندهٔ تذکرهٔ نمبر ٨٣٧٠٨٩
٥ ــ عنوان تجارت: شاه ولی.
٦ــ موضوع تجارت: (١)صادرات: میوهٔ خشك وتازه ــ کنجد ــ وغیره.
٢ ــ واردات: رخت باب ــ بنجارگی ــ موتر سامان تعمیراتی پرزه جات ــ چای ــ خورده فروشی تیرو تیوپ موتر ــ روغنیات تار باب مال لیلامی ــ آهن باب .
٧ــ موضع تجارتخانه: سرای وزیرباغ علیمردان .
٨ــ اشخاص دارای صلاحیت امضاء: امضاء شاولی مدار اعتبار است

**خصوصیات تجارتی ښاغلی حاجی علی احمد تاجر قرار ذیل به ثبت مدیریت عمومی ثبت اسناد وعلایم تجارتی رسیده است.**

١ــ اسم تاجر: حاجی علی احمد .
٢ــ ولد: نورمحمد.
٣ــ محل تولدوتاریخ: ده بوری درسنه ١٣١٣
٤ــ تابعیت: افغان دارندهٔ تذکرهٔ نمبر ١٥٢٧٧٥
٥ــ عنوان تجارت: حاجی علی احمد.
٦ــ موضوع تجارت: ــ١صادرات قالین، میوهٔ خشت، خورده فروشی
٢ــ واردات، رخت باب پشمی سامان بنجارگی
٧ــ موضع تجارتخانه: سرای احمدشاهی.
٨ــ اشخاص دارای صلاحیت امضا مهر حاجی علی احمد مدار اعتبار است.

**خصوصیات تجارتی ښاغلی محمد هاشم دفتری قرار ذیل به ثبت مدیریت عمومی ثبت اسنا د وعلایم تجارتی رسیده است.**

١ــ اسم تاجر: محمدهاشم دفتری .
١ــ ولد: محمدحسین خان.
٣ــ محل تولد وتاریخ: کابل درسنه ١٣٠٣ ش .
٤ــ تابعیت: افغان دارنده تذکرهٔ نمبر ١٧٧٥
٥ــ عنوان تجارت محمد هاشم دفتری.
٦ــ موضوع تجارت نمایندگی کوکاکولا.
٧ــ موضع نمایندگی شهرنو کابل .
٨ــ اشخاص دارای صلاحیت امضا: امضاء محمد هاشم دفتری و محمد عمر بطور مشترك مدار اعتبار است .

**خصوصیات تجارتی ښاغلی حاجی دین محمد تاجر قرار ذیل به ثبت مدیریت عمومی ثبت اسناد وعلایم تجارتی رسیده است.**

١ــ اسم تاجر ــ حاجی دین محمد
٢ــ ولد ــ گل محمد
٣ــ محل تولد ــ مشرقی درسنه ١٣١٢ هـ ش

(بقیه درصفحه مقابل)

۴ـ تابعیت : افغان د ـــــ لمبر تذکری خاوی
۵ ـ د تجارت موضوع ۱ ـ صادرات نلری .
۲ ـ واردات : رخت باب ـ چای اوسند .
۶ـ د تجارت عنوان : حاجی دین محمد
۷ـ د تجارتخی پته: دسعادت سرای
۸ ـ دصلا حیت لرونکی لا سلیک : د حاجی دین محمد مهر اعتبارلری :

**دفاریاب صناعتی‌لیمتدشرکت تجارتی خصوصیات په‌لاندی دول داسناد ودثبت په لوی‌مدیریت کښی ثبت شوی دی .**

۱ـ دشرکت‌نوم‌اوعنوان : دفاریاب دپنبی‌صناعتی‌لیمتدشرکت.
۲ـ دتجارت موضوع: د پخلی جین او پرس ـ د نباتی‌غوړی تولید او صابون .
۳ـ قسم اودتأسیس نیټه : لیمتد په۱۳۴۴هـ ش کال کښی نوی تاسیس شوی دی .
٤ ـ دشرکت اصلی مرکز: دکابل په نوښهرد زرغونی‌میدان په۱۱۸ لمبراپارتمان کښی
۵ ـ دشرکت پانگه: دری ملیونه افغانی.
٦ـ تابعیت: افغان .
۷ـ دلاسلیک صلاحیت لرونکی: یوازی د حاجی قمبر بای دشرکت رئیس امضااعتبارلری.

**دښاغلی آقاملاسوداگر تجارتی خصوصیات په‌لاندی دول داسنادودثبت‌په‌لوی‌مدیریت‌کښی‌ثبت‌شوی‌دی**

۱ـ دسوداگر نوم : آقاملا .
۲ـ دپلار نوم : محمد ملا .
۳ـ دزیږیدو ځای اونیټه: دپروان ولایت په ۱۳۱۳ ش کال کښی
٤ـ تابعیت : افغاند ۲٦۷۳۵۱ لمبرتذکری خاوند .
۵ ـ دتجارت عنوان: آقاملا
٦ـ دتجارت موضوع: ـ صادرات : وچه اولمده میوه حبوبات کلمی ـ غاړی ـ پوست باب.
۲ـ واردات: رخت‌باب ـ چای ـ سیمساری ـ خورده خرڅول ـ رنگ باب سگرت ـ دموترو پرزی موتر اوراديو .
۷ـ دتجارتخی پته : افغان مارکیت
۸ـ دلاسلیک صلاحیت‌لرونکی: دآقاملا امضاءاعتبارلری.

**د خیبر لیمتد شرکت تجارتی خصوصیات په لاندی دول داسنادو دثبت په لوی مدیریت کښی ثبت شوی دی**

۱ـ دشرکت‌نوم اوعنوان:خیبرلیمتد شرکت.
۲ـ دتجارت موضوع: ۱ـ واردات:طبی درمل دبرښناشیان‌دو دانیو سامان دموترو پرزی اوسیمساری
۲ـ صادرات : غاړی ـ پوست ـ وړی ـ کلمی ـ حبوبات .
۳ـ دشرکت نوع او دتاسیس نیټه: لیمتدپه۱۳۴٤هـ ش کال کښی نوی تاسیس شوی دی.
٤ـ دشرکت اصلی مرکز: دمیوند واټ په لمړی برخه کښی
۵ـ دشرکت پانگه:دولس‌لکه افغانی
٦ـ تابعیت : افغان .
۷ـ دلاسلیک صلاحیت لرونکی : دمحمدهاشم امضاءد رئیس‌په حیث اودحاجی عبدالغفور امضاءدمعاون په حیث په مشترک دول ددوکسو امضاء صلاحیت لری.

٤ـ تابعیت ـ افغان‌دارندۀ تذکرۀ نمبر
۵ ـ موضوع تجارت (۱) صادرات ندارد .
۲ـ واردات ـ رخت باب ـ چای ـ سند .
٦ـ عنوان تجارت ـ حاجی دین محمد .
۷ـ موضع تجارت خانه ـ سرای سعادت .
۸ ـ اشخاص‌دارای‌صلاحیت امضاءمهرحاجی دین محمدمدار اعتباراست .

**خصوصیات‌تجارتی‌دفاریاب صناعتی‌لیمتدشرکت‌قرارذیل به‌ثبت‌مدیریت‌عمومی‌ثبت‌اسنادوعلایم تجارتی‌رسیده‌است.**

۱ـ اسم وعنوان شرکت ـ دفاریاب د پنبی‌صناعتی‌لیمتد شرکت .
۲ـ موضوع تجارت ـ جین وپرس پخته وتولیدات روغن نباتی وصابون .
۳ـ نوع وتاریخ‌تاسیس ـ لیمتددرسنه۱۳۴٤جدید التاسیس گردیده.
٤ـ مرکزاصلی‌شرکت ـ زرغونه میدان پارتمان ۱۱۸شهرنو کابل.
۵ ـ سرمایۀ شرکت ـ سه ملیون افغانی.
٦ـ تابعیت ـ افغان .
۷ـ اشخاص دارای صلاحیت امضاء ـ حاجی قمبر بای رئیس شرکت منفرداً مدار اعتبار است.

**خصوصیات تجارتی ښاغلی آقاملا تاجر قرارذیل به ثبت مدیریت عمومی ثبت اسناد وعلایم تجارتی رسیده است .**

۱ـ اسم‌تاجر: آقاملا .
۲ـ ولد: محمد ملا.
۳ـ محل‌تولدوتاریخ:ولایت پروان در سنه۱۳ ۱۳
٤ـ تابعیت: افغان‌دارندۀتذکرۀ نمبر۲٦۷۳۵۱
۵ـ عنوان‌تجارت: آقاملا.
٦ـ موضوع تجارت: ۱ـ صادرات ـ میوه‌خشک‌وتازه‌حبوبات، رود قالین/پوست‌باب.
۲ـ واردات: رخت باب‌چای سیمساری ـ خورده‌فروشی ـ رنگ باب سگرت ـ پرزه‌جات‌موتر ـ موتر ـ رادیو.
۷ـ موضع تجارتخانه: افغان مارکیت.
۸ـ اشخاص دارای صلاحیت امضاء ـ امضاء آقاملا مدار اعتبار است .

**خصوصیات‌تجارتی‌خیبرلیمتدشرکت قرارذیل به‌ثبت مدیریت عمومی ثبت اسنادوعلایم تجارتی‌رسیده‌است.**

۱ـ اسم وعنوان شرکت:خیبرلیمتدشرکت .
۲ـ موضوع تجارت ـ۱ـ واردات: ادویه جات طبی . سامان برق سامان تعمیراتی ـ پرزجات موتر ـ سیمساری‌ها .
۲ـ صادرات ـ قالین ـ پوست ـ پشم ـ حبوبات روده
۳ـ نوع‌وتاسیس شرکت‌لیمتد: درسنه ۱۳۴٤ جدید تاسیس گردیده.
٤ـ مرکزاصلی‌شرکت: حصۀاول‌جادۀمیوند.
۵ـ سرمایۀشرکت: دوازده‌لك افغانی .
٦ـ تابعیت: افغانی
۷ـ اشخاص‌دارای صلاحیت امضاء ـ امضاءمحمدهاشم‌بحیث‌رئیس وحاجی عبدالغفوربحیث معاون مشترکاً هردونفرصلاحیت دارد .

## دالف تجارتی استیناف محکمی ریاست داسنادو دثبت لوی مدیریت له خوا اعلان

ښاغلی حاجی عبدالقدیر دښاغلی عبدالقدوس زوی دباغ علیمردان اوسیدونکی د۴۲۳۷ لمبر تذکری خاوند دغالیو دلال دخپل وظیفي څخه استعفا کړیدی دتجارتی اصولنامی دیولسم فصل ضمیمــی د دولسمه لمبر مادی سره سم دنوموړی استعفا خپره شویدی . هرڅوک چه دی نوموړی سره کومه ادعا ولری کولای شی چه تر دری میاشتی پوری خپله دعوی تجارتی محکمی ته وړاندی کړی.

### دښاغلی صاحب دیــن دزلال درملتون مالك تجا رتــی خصوصیات پهلاندی دول داسنادو دثبت په لوی مدیریت کښی ثبت شوی دی.

۱ــ ددرملتون نوم اوعنوان : زلال درملتون.
۲ــ دتجارت موضوع : درمل پلورل.
۳ــ قسم اودتاسیس نیته: درملتون په۱۷ دقوس ۱۳۴۴ ه ش کال کښی
۴ــ دشرکت اصلی مرکز : دصدارت په چهارراهی کښی
۵ــ ددرملتون پانګه: دری لکه افغانی
۶ــ تابعیت : افغان .
۷ــ دلاسلیك صلاحیت لرونکی: دصاحب دین امضاء دمالك په حیث اعتبار لری .

### دښاغلی عبدالجبار سوداګر تجارتی خصوصیات په لاندی دول داسنادو دثبت پهلوی مدیریت کښی ثبت شوی دی .

۱ ــ دسوداګر نوم: عبدالجبار
۲ دپلار نوم : حاجی عبدا لغفور .
۳ ــ دزیږیدو ځای اونیټه: کابل په ۱۳۱۳ ه ش کال کښی .
۴ ــ تابعت : افغان د۶۱۵۲۹ لمبر تذکری خاوند .
۵ ــ دتجارت عنوان : عبدالجبار .
۶ ــ دتجارت موضوع : ۱ــ صــادرات : وچه اوتــازه میو ه حبوبات ـ پوست باب اوغالی .
۲ ــ واردات : رخت باب ـ بنجارګی ـ لیلامی مالونه .
۷ ــ دتجارتځی پته : هزارګل سرای .
۸ ـ دلاسلیك صلاحیت لرونکی : دعبد الجبار امضأ اعتبار لری .

### دښاغلی محمدآصف سوداګر تجارتی خصوصات په لاندی دول د اسنادو دثبت په لوی مدیریت کښی ثبت شوی د ی .

۱ــ دسوداګر نوم: محمد آصف
۲ــ دپلار نوم: حاجی عزیزالله .
۳ــ دزیږیدو ځای او نیټه: دپروان ولایت په۱۳۰۹ه ش کال کښې
۴ــ تابعیت : افغان د۲۶۷۰۲۶ لمبر تذکری خاوند
۵ــ دتجارت عنوان : محمدآصف
۶ــ دتجارت موضوع: ۱ــ صادرات: وچه اولمده میوه ـ حبوبات ـ کلمی غاړی ـ پوست باب
۲ــ واردات : رخت باب ـ چــای ـ خورده خرخول ـ سیمســاری رنګ باب ـ سګرت دموترو پرزی موترا و رادیو
۷ــ د تجارتځی پته: افغان مارکیت.
۸ــ دلاسلیك صلاحیت لــرونکی: دمحمدآصف امضا اعتبار لری.

## اعلان از طرف مدیریت عمومی ثبت اسناد وعلایم تجارتی ریاست محکمۀ استیناف تجارتی الف

ښاغلی حاجی عبدالقدیر ولد عبدالقدوس ساکن باغ علــیمــردا ن دارندۀ تذکره نمبر ۴۲۳۷ دلال قالین ذریعۀ درخواستی علیحده از شغل دلالی استعفای خودرا باین محکمه تقدیم داشته است نظر به مادۀ ۱۲ ضمیمه فصل یازده اصولنامۀ تجارتی صورت استعفا مذکور شایع گردید هر شخص نسبت بدلا ل مذکور ادعای داشته باشد میتواند درظرف سه ماه صورت ادعای خودرا بهمحکمۀ تجارتی ارائه بنماید.

### خصوصیات تجارتی صاحب دین مالك زلال در ملتون قرار ذیل به ثبت مدیریت عمومی ثبت اسناد وعلایم تجارتی رسیده است.

۱ــ اسم وعنوان دواخانه : زلال درملتون
۲ــ موضوع تجارت : دوافروشی
۳ــ نوع وتاریخ تاسیس درملتون : ۱۷ قوس ۱۳۴۴
۴ــ مرکز اصلی : چهاراهــی صدارت
۵ــ سرمایه دواخانه : سه لك افغانی
۶ــ تابعیت : افغان
۷ــ اشخاص دارای صلاحیت امضاء : امضاء صاحب دین به حیث مالك دواخانه مدار اعتبا ر است .

### خصوصیات تجارتی ښاغلی عبدالجبار تاجر قرار ذیل به ثبت مدیریت عمومی ثبت اسناد وعلایم تجارتی رسیده است .

۱ ــ اسم تاجر : عبدالجبار .
۲ـ ولد : حاجی عبدالغفور .
۳ ــ محل تولد وتاریخ : کا بل درسنه ۱۳۱۳ ش
۴ ــ تابعیت : افغان دارنده تذکر ه نمبر ۶۱۵۲۹
۵ ــ عنوان تجارت : عبدالجبار .
۶ ـ موضوع تجارت: ۱ــ صارارات: میو ۀ خشك وتازه ـ حبوبات قالین ـ پوست باب .
۲ــ واردات : رخت باب ـ بنجارگی ـ مال لیلامی .
۷ــ موضع تجارتخانه : سرای هزارگل
۸ــ اشخاص دارای صلاحیت امضا : امضأ عبدالجبا ر اعتبار دارد .

### خصوصیات تجارتی ښاغلی محمدآصف تاجر قرار ذیل به ثبت مدیریت عمومی ثبت اسناد وعلایم تجارتی رسیده است.

۱ــ اسم تاجر : محمــدآصف .
۲ــ ولد : حاجی عزیزالله .
۳ــ محل تولد وتــاریخ: ولایت پروان سنه ۱۳۰۹ ش
۴ــ تابعیت : افغان دارندۀ تذکرۀ نمبر ۲۶۷۰۲۶
۵ــ عنوان تجارت : محمدآصف.
۶ــ موضوع تجــارت ـ ۱ـ صادرات ـ میوۀ خشك وتازه ـ حبوبات ـ روده قالین ــ پوست باب .
۲ــ واردات رخــت باب ـ چای ـ خورده فروشی ـ سیمساری ـ رنگ بــاب سگرت ـ پرزه جات موترو موتر ـ رادیو.
۷ــ موضع تجارتخانه ـ افغــان مارکیت.
۸ــ اشخاص دارای صلاحیت امضــاء ـ امضاء محمــد آصف مدار اعتبار است .

داشتراك بیه

| | |
|---|---|
| په کابل کښې | ۲۲۰ افغــانی |
| په ولایا تو کښې | ۲۴۰ افغانــی |
| په بانديني هیوادونو کښې | ۱۰ امریکائی دالره |

دیوه ګڼه بیه لس افغانی

دپوهنې مطبعه